watan وطن
ارگان نشراتی شورای اروپایی حزب واحد

# د ولسي جرگې غړی او کاندید نورالحق علومي سره د سور غر اوونيزی ځانگړی مرکه :

خپرونکی محمود رحمتی , 23-08-2010



## د خپلو خلکو د آرامتيا، عزت او پرمختگ لپاره مبارزه کوم

پخوانی جنرال نورالحق علومي چې په تېرو پنځو کلونو کې د ولسي جرگې غړی و، دا ځل بيا له کندهار څخه راتلونکو پارلماني ټاکنو ته چې ټاکل شوې د روان لمريز کال د سنبلې مياشتې پر اووه ويشتمه نېټه تر سره شي، کانديد دی.
د کندهار اصلي اوسېدونکی نورالحق علومي شاوخوا نهه شپېته کلونه مخکې په ١٣٢٠ لمريز کال کې زېږېدلی، د کابل په حبيبيه ښوونځي کې يې تر دوولسم ټولگي زدکړه کړې او بيا يې په حربي پوهنتون کې پوځي زدکړې کړې دي.
نوموړي د لوړو زدکړو تر حاصلولو وروسته د اردو د افسرانو روزونکی هم پاتې شوی دی. نورالحق علومي په نولس سوه او دوه اويا زېږديز کال کې په امريکا کې د ارکانحرب تر کچې د نظامي دوکتورا معادل تحصيلات کړي دي.
ښاغلي علومي په پوځي برخه کې چې د ده مسلکي رشته ده، د روسيې په پلازمېنه مسکو کې هم زدکړې کړې دي.
ښاغلی علومي په دولت کې د کار کولو ډېره اوږده سابقه لري او شاوخوا پنځه کلونه يې په بېلابېلو دولتونو کې په ملکي او نظامي برخه کې دندې تر سره کړې دي. نوموړي د ملت د بابا اعليحضرت محمدظاهر شاه له واکمنۍ نيولې، بيا د ډاکټر نجيب الله د واکمنۍ تر پايه پورې، دولتي دندې تر سره کړې دي. ښاغلي علومي يوولس کاله په کندهار کې په ملکي او نظامي برخه کې ماموريت کړی دی. نوموړی يو مهال د سوېلي حوزې تنظيمه رئيس و او د شپږو ولايتونو پوځي چارې يې اداره کولې او دغه راز نوموړی په دې حوزه کې د قول اردو قوماندان هم پاتې شوی دی.
هغه وايي، د خپل ماموريت پر مهال له خپلو يا په اصطلاح د کندهار له خلکو ښې خاطرې لري او خورا ښه وخت يې ورسره تېر کړی دی. له نوموړي مو وپوښتل چې د خپلې واکمنۍ د مهال لږ تر لږه يوه کارنامه راسره شريکه کړي.
هغه وويل: ((هغه مهال چې زه دلته تنظميه رئيس وم، د کندهار خلکو جلب احضار يا په زور عسکري خدمت نه خوښاوه، نو هماغه و چې ما جلب احضار معاف کړ، بله جالبه دا ده چې هغه وخت چې مجاهدين د دولت پر ضد جنگېدل، موږ د جگړې پر ځای له ديپلوماسي څخه کار واخيستی او سولې ته مو ترجيح ورکړله. يو وخت تر دېرشو

کلونو وروسته په لومړي ځل په کندهار کې موږ د اختر لمونځ ادا کاوه، نو دا مجاهدین به ښار ته راغلل، زموږ پوستو ته به یې وسلې تسلیم کړې، لمونځ یې وکړ او بیا ولاړل.))

کله چې طالبان واکمن شول، ښاغلي علومي هېواد پرېښود، خو کله چې په ۱۳۸۰ لمریز کال کې د طالبانو واکمنۍ ړنگه شوه او د ولسمشر کرزي په مشرۍ لنډ مهاله حکومت واکمن شو، ښاغلی علومي هم د هغو کسانو په ډله کې و چې د ولسمشر کرزي او خلکو له لوري راوغوښتل شول. اوبیا د ملي یووالي او دیموکراسۍ د تحقق لپاره مبارزه پیل کړه.

نورالحق علومي په تېرو پنځو کلونو کې د ولسي جرگې غړیتوب درلود. له نوموړي مو دا هم وپوښتل چې په تېرو پنځو کلونو کې ولس ته له خپلو کړو کارونو څومره خوښ دی او ایا لکه څنگه چې ښایي د خپلو موکلینو ږغ یې پورته کړی دی، که څنگه؟

ښاغلي علومي دا پوښتنه هم د یوې ـ دوو بېلگو په ورکولو خورا واضح ځواب کړه: ((لوږ سر لرل ښه دي، نه لوږ تعمیر. زه فکر کوم زه به لومړنی کس یم چې د خپلو خلکو د ځورېدني پر مهال مې د هغوی ږغ پورته کړی، که ناحقه بمبار شوی، که ظلم شوی، که قانون مات شوی او که نورې ناخوالې رامنځ ته شوې دي، ما پر موقع د خپلو خلکو ږغ پورته کړی دی. ما په ولسي جرگه کې درې ځله د هېواد لپاره امنیتي طرح جوړه کړې، دا طرح نه یوازې د جرگې، بلکې د دولتي پوځي او امنیتي ارگانونو د تائید وړ هم گرځېدلې ده. دا چې نه ده عملي شوې، دا د حکومت کمزوري ده او زموږ حکومت د خبرو حکومت دی، عمل کې کمزوری دی.))

ښاغلي علومي د کندهار د خلکو لپاره هم د خپل یوه کار یادونه وکړه او هغه د کندهار د زندان د زندانیانو د اعتصاب ماتول وو: ((ستاسو به یاد وي چې شاوخوا یو کال مخکې د کندهار د مرکزي زندان اووه څلوېښت تنو زندانیانو خپلې خولې ترلې وې او خوراک او څښاک یې نه کاوه. والي ورغی، ولایتي شورا غړي ورغلل، نور پلاوي ورغلل، خو ونه توانېدل چې اعتصاب مات کړي. بالاخره زه ورغلم، څلور ساعته له بندیانو سره ولاړ وم د خبرو په پایله کې مې چمتو کړل چې اعتصاب مات کړي، ما خپله د ځینو بندیانو خولې خلاصې کړې.))

ښاغلي علومي د ټول هېواد په ځانگړې ډول کندهار د روان ترینگلي حالت په اړه وویل چې د دغې ستونزې د هواري لپاره په کار ده چې د پوځي زور کارولو پر ځای له سیاسي هلو ځلو او خبرو اترو کار واخیستل شي. هغه همدا راز وویل چې د ستونزو د هواري لپاره اړتیا ده چې کار د کار اهل کسانو ته وسپارل شي او دا د نوموړي په باور، د ښه راتلونکې لپاره خورا مهمه ده.

ښاغلي علومي د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل چې د خلکو د خدمت لپاره یې غوره بللې چې د ولسي جرگې غړی پاتې شي او د دویم وار لپاره ځان کاندید کړي. هغه زیاته کړه چې د خلکو د هڅونې په پایله کې یې د بیا کاندیداتورۍ پرېکړه کړې ده: ((زه د خلکو په خوښه د خلکو د خدمت لپاره کاندید شم، که خلک دا اوس راته وواییې چې کاندیداتوري پرېږده، دا اوس به انتخاباتي مبارزه پرېږدم، خو دا چې خلک وایي، باید مبارز پاتې شم او د خپلو خلکو د خدمت په لار کې هلې ځلې وکړم. خدمت وسیله غواړي او زه فکر کوم ولسي جرگه د خلکو د خدمت ښه مرجع ده.))

د نوموړي په وینا، په تېر کې یې هم د خلکو د عزت او ارامتیا لپاره هلې ځلې کړې او که بیا د ولسي جرگې غړیتوب تر لاسه کړي، بیا به هم د خپلو خلکو لپاره مبارزې ته دوام ورکړي. نوموړي له خلکو هم وغوښتل چې په راتلونکو ټاکنو کې د احتمالي درغلیو په مخنیوي کې مرسته وکړي.

د تېر ځل په ټاکنو کې خلکو ته اندېښنه پیدا شوې چې ښایي دا ځل هم پراخې درغلۍ وشي او د ولس د رښتینو استازو پر ځای زورواکي او هغه کسان چې واکمن بلل کېږي، د ولسي جرگې غړیتوب تر لاسه کړي. ښاغلي علومي وویل، د درغلیو په اړه یې ډېر اورېدلي او باور لري چې درغلي به کېږي، خو نوموړي دا هم وویل چې ولس کولای شي د هر ډول درغلیو مخنیوی وکړي. هغه وویل، له خلکو یې غوښتي چې د دیموکراتیکو ټاکنو د تر سره کېدو لپاره زمینه برابره کړي او چا ته موقع ورنه کړي چې ټگي برگي وکړي. نوموړي له دولته د درغلیو د مخنیوي وړاندیز ونه کړ او دا ښایي ځکه وي چې ده ویل، د اوسني دولت اساس پر درغلي اېښودل شوی دی. ښاغلي علومي همدا راز له خلکو

وغوښتل چې د صداقت، ایمانداری او ورتیا پر اساس رایې ورکړي او داسې انتخاب وکړي چې راتلونکي کې پښېماني احساس نه کړي.

ځینې کاندیدان د ولسي جرګې د غړیتوب د نه تر لاسه کولو په صورت کې پلان نه لري چې سیاسي مبارزې ته دوام ورکړي او یا د خلکو د خدمت او د ناخوالو د هوارولو لپاره یو حرکت رامنځ ته کړي. خو ښاغلی علومي له دا ډول کسانو څخه نه دی. نوموړي سورغر اوونیزې ته وویل چې که بریالی شي او که نه شي، خپلې مبارزې ته چې د خلکو خدمت کول دي، دوام ورکوي او دا مبارزه یې نه یوازې په ولسي جرګې محدوده وه او نه به په راتلونکي کې یوازې تر ولسي جرګې محدوده پاتې شي. هغه وویل، د خپلو خلکو ارامتیا غواړي، د هغوی د پرمختګ لپاره کار کوي او هیله یې دا ده چې د هېواد روانو ناخوالو ته د حل موندلو لپاره د سیاسي هلو ځلو ملاتړ راجلب کړي.

نورالحق علومي د کندهار د شاوخوا پنځه پنځوس تنو کاندیدانو له ډلې دی چې د ولسي جرګې د غړیتوب تر لاسه کولو په موخه یې انتخاباتي مبارزه پیل کړې ده. کندهار په ولسي جرګه کې د استازو یوولس څوکۍ لري چې اته یې نارینه وو او پاتې درې هغه یې ښځینه وو ته بېلې شوې دي. ولسي جرګه چې د ملت خونه بلل کېږي، د ټول هېواد په کچه د استازو لپاره دوه سوه او نهه څلوېښت څوکۍ لري. د دغو څوکیو پنځه ویشت سلنه یې ښځینه استازو ته بېلې شوې دي.

د نړۍ د بل هر هېواد په پرتله د افغانستان د پارلمان د ښځو سهمیه زیاته بلل کېږي. د هېواد له څلوردېرشو ولایتونو څخه ولسي جرګې ته شاوخوا پنځه زره او پنځه سوه تنه کاندیدان دي، چې تر څلور سوه زیات یې ښځینه دي. د ولسي جرګې ټاکنې د سنبلې میاشتې پر اووه ویشتمه نېټه تر سره کېږي.